صمد افغان ۲۰۱۲/۱۰/۱۳

# د عمران خان څرګندونې، د افغانانو چوپتیا او زړه سوی

پنجشنبه د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر د میاشتې په ۱۱مه نېټه د پاکستان د کرکټ پخواني لوبغاړي او د تحریک انصاف د ګوند رهبر عمران خان په یوه خبري غونډه کې له خبریالانو سره په خبرو کې افغانستان کې اوسنی روان ناورین جهاد وباله، عمران خان په خپلو خبرو کې ویلي، چې هر هغه ځوک چې د خپلې آزادۍ لپاره جنګېږي هغه جهاد دی، که څه د پاکستان د پوځ پخواني افسر اسد منیر او د پېښور پوهنتون رئیس ډاکټر قبله ایاز د عمران خان څرګندونې د سیمې له حالاتو د ناوړې بې خبري ګڼلې، خو یو شمېر روڼ اندو او په وطن مینو افغانانو سره یې دا سوال پیدا کړی، چې ولې د پاکستان زیات شمېر رهبران او تش په نامه عالمان په افغانستان کې روان ناورین جهاد ګڼي، د دې خبر تر څنګ مې په ګڼو برېښنايي رسنیو کې دا هم تر سترګو شول، چې د پوهنې وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د وزارت مقام لخوا په هېواد کې ټولو ۵۵۰۰ ښوونځیو سرښوونکو ته هدایت ورکړل شوی، ترڅو سبا د شنبې ورځ د روان ۲۰۱۲ کال د اکتوبر د میاشتې په ۱۳مه نېټه د اسملۍ په وخت د ملي سرود څخه وروسته ټول زده کوونکي، ښوونکي او سرښوونکي دې د سوات منګورې ساحې یوې ټپي شوې زده کوونکې ملالې یوسفزۍ ته د صحت او سلامتیا دعاګانې وکړي، د ښوونې او روزنې وزارت لخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې د آغلې یوسفزۍ ترڅنګ په هېواد، سیمې او نړۍ کې په زده کوونکو بریدونه غندلي او داسې بریدونه یې پر انسانیت بریدونه یاد کړي، د پوهنې وزارت څخه مخکې د ولسمشر د ویاندوی له دفتر څخه هم په خپره شوې خبرپاڼه کې پر ملالې یوسفزۍ برید په سختو ټکو غندل شوی و، په سویډن کې د افغان علمي او فرهنګي مرکز تر څنګ د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم ګڼ شمېر افغانانو پر ملالې برید غندلی، موږ هم نه یوازې دا، چې پر ویاړلې ملالې یوسفزۍ برید غندو بلکه په هېواد کې دننه هم ټول هغه بریدونه چې پر معصومو زده کوونکو کېږي غندو او یو جاهلانه عمل یې بولو.

افغانانو سره لدې چې په تېرو درې نیمو لسیزو کې یې تر هر وخت ډېرې ستونزې لیدلي، هره ورځ د افغان په وینو کورونه، سړکونه، لارې او موټرونه رنګ شوې، خو تر دې دمه افغانانو خوله چوپه ساتلې او دا یې ندي ویلي، چې دې هېواد ته د ځانمرګو بریدګرو، تروریستانو، جعل کارانو او نورو خرابکارانو رالېږل د همدې ګاونډي هېواد پاکستان څخه کېږي، چې دا خبر اوس نه یوازې افغانانو بلکې ټولې نړۍ ته جوته ده، که خبره نوره هم برېبنډه کړو دې نتیجه ته رسېږو چې د افغانستان د بدبختۍ او تباهۍ ورځې له هغه وخته شروع شوې، چې له کله نه پاکستان جوړ شو، پاکستان د دوی د پلارونو (انګریزانو) له لوري د افغانستان د تباهۍ او منځنۍ اسیا د وروسته پاتې کېدو لپاره جوړ شو، له هماغه تاریخ څخه نیولې بیا تر ننه پورې زموږ هر نسل د تعلیم له عظیم نعمت څخه بې برخې پاتې شوی، او اوس یې نسلونه نسلونه وشول، چې همداسې بې تعلیمه پاتې دي، سره لدې چې په هېواد کې اوسني معارف ښه وده کړې، د پوهنې وزارت د سروی له مخې په تېرو یولس کالونو کې یوازې ۱۵ سلنه هېوادوال تعلیم یافته شوي، خو دا شمېره هم ډېره کمه ده، سره د دې چې د نړیوالې ټولنې د همکارۍ لاس زموږ د هېواد سره و، تر دې دمه زموږ د پوهنې وزارت مسوولین او نور مقامات و نه توانېدل، چې په لیرو پرتو سیمو کې هم د معارف ډیوې بلې کاندي، او په ځانګړي ډول په هغه ساحو کې چې هلته د طالب جنګیالیو ویره زیاته ده، طالب جنګیالي، چې سرچینه یې د همدې کثیفې خاورې څخه ده، په افغانستان کې د پوهنې ډیوه بله نه غواړي بلکه غواړي چې همېشه دا هېواد د پوهنې له عظیم نعمت څخه بې برخې پاتې او نسلونه وروسته به په هېواد کې داسې ځوک نوي، چې وتوانېږي د افغانستان لپاره سرنوشت ټاکوونکی وي، په هېواد کې دا حالت او بیا همداء حالات ژوندي ساتلو کې سیمې او په ځانګړي ډول د پاکستان دوه عمده هدفونه دي، یو دا چې افغانان څومره بې تعلیمه کېږي همومره به د پاکستان احتیاج کېږي، ځکه هغه هېواد اوس فابریکې لري، منظم شفاخانې، د ټیسټ لپاره منظم او باکیفیته لابراتوارونه او ډېرې داسې اسانتیاوې لري، چې زموږ په هېواد کې نشته، همدا لامل دی، چې موږ د کوچنې کار لپاره هم پاکستان ته ځو، بله ګټه چې د پاکستان هېواد لپاره په لاس ورځي هغه به دا وي، چې څومره افغانان د هغه پاکستاني او افغاني جنګیالیو طالبانو له لوري بې تعلیمه کېږي، همومره به پس مانده وي، د هراړین توکو اخیستو لپاره پاکستان ته احتیاج وي، پاکستان به ورته د نړۍ تر ټولو غوره او ښه هېواد معلومېږي او همدا لامل به ګرځي، چې افغانان به د پاکستان لاس ته پریوځي، لکه څنګه یې چې د طالب جنګیالیو په وخت کې پاکستان افغانستان خپله پنځمه صوبه بلله همداسې به په راتلونکې کې خپل پلان عملي کوي.



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانان خپلو ګاونډيانو په ځانګړي ډول د پښتونخواه له خلکو سره ځانګړې مينه لري، ځکه خو په پښتونخوا کې پر يوې معصومې انجلۍ بريد نه يوازې د افغانستان ولسمشر بلکه، په هېواد کې دننه او بهر ټول افغانان په کلکو ټکو غندي، په رسمي اوقاتو کې ورته د صحت منديٰ دعاګانې کوي او دا هيله لري، چې د ميوند ملالې په څېر دا ملاله هم د خپلو پښتنو لپاره د سرتاج وګرځي، خو پاکستان د تحريک انصاف د ګوند رهبر او يو شمېر نور پاکستاني چارواکي، ملايان ظالمان، جابران او د انګريز بچي بيا په افغانستان کې د افغانانو تباهي، بربادي، بې تعليمي او احتياجئ ته اړويستل جهاد ګڼي او يو شمېر بې تعليمه، د اسلام له سپيڅلي دين څخه ناخبر او د پاکستان د استخباراتي کړئ غلام افغانان او پاکستانيان بيا هڅوي، ترڅو زموږ په پاکه خاوره ځانمرګي بريدونه وکړي، هېوادوال مو شهيدان کړي، مامورين، معلمان، متعلمين، محصلين، ډاکټران او روند اندي مو ترور کړي، سړکونه مو وران کړي او بيا مو هم هغه حالاتو ته ورسوي، چې ۱۱ کاله وړاندې و، خو د پاکستان يو چارواکي، ملا، رهبر او عام شخص هېڅکله هم په هغه وخت کې چې انګريزان د دوی په هېواد کې و، د جهاد ناره پورته نکړه او نه يې اوس د جهاد اواز پورته کړی، چې په هېواد کې يې ټول د انګريز قانون پلی کېږي، ځکه چې بيا انګريزان ورسره مرسته نه کوي او همدا لامل به وګرځي چې پاکستان هم له پرمختګ څخه پاتې شي، خو موږ سره چې نړيوال مرسته کوي بيا يې کفر او پر ضد يې جهاد ګڼي، پاکستان همېشه د جهاد له سپيڅلي نامه څخه ناوړه ګټه پورته کړې او همېشه يې د اسلام په نوم هغه څه کړي، چې بايد نه يې وای کړي.

د ملالې د روغتيا، د افغانانو د وېښتيا او د عمران خان په شمول د ټولو پاکستانيو د اصلاح په هيله.

(ګران افغانستان)



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ